ایټالیا

# د بیاZ ځای پر ځای کېدو په اړه په څه باندې باید وپوهیږي

## د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي



**یادښت.** دغه بروشور داسې معلومات لري کوم چې ستاسې لپاره مهم دي.
که چېرې داسې څه وي چې تاسې نه پرې پوهیږئ، نو کولای شئ له یوه چارواکي څخه پوښتنه وکړئ تر څو یې درته تشریح کړي.

PASHTO

# منځپانګې


بیا ځای پر ځای کېدل څه شی دی؟ 3
که چېرې تاسې ټاکل شوي یاست، نو کوم هېواد کې به تاسې ځای پر ځای شئ؟ 4
که چېرې تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست نو له تاسې د څه شي تمه کېږي؟ 5
که چېرې تاسې له چارواکو سره همکاري و نه کړئ نو څه به وشي؟ 5
که له تاسې سره د کورنۍ غړي وي نو بیا؟ 6
ایا له بیا ځای پر ځای کېدو وړاندې به کومه مصاحبه تر سره شي؟ 6
که چېرې تاسې د لېږد له پرېکړې سره مخالف یاست نو څه کولای شئ؟ 7
- د تعلیقي اغېز او اساسي دعوې لپاره ګډ استیناف -
- د تعلیقي اغېز او اساسي دعوې لپاره بېل استیناف -
د بیا ځای پر ځای کېدو پروسه څومره وخت نیسي؟ -
له بیا ځای پر ځای کېدو وروسته به څه پېښیږي؟ -

## بیا ځای پر ځای کېدل څه شی دی؟

د اروپايي ټولنې هېوادونو او 4 نورو هېوادونو داسې یوه ګډه قانوني مقرره ومنله چې د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مدیریت مقرره (Asylum and Migration Management Regulation, AMMR) نومیږي. د دې قانون موخه دا ده چې وټاکي کوم هېواد د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک د ارزونې مسؤلیت لري. دغو هېوادونو ته د اروپايي ټولنې+ هېوادونه ویل کیږي.



که چېرې یو هېواد په یوه مهال د نړیوال خوندیتوب لپاره زیات شمېر غوښتنلیکونه تر لاسه کړي او هغه يې مدیریت و نشي کړای، نو بیا نور هېوادونه له هغوی سره په بېلابېلو لارو کې مرسته کولای شي. ځينې غوښتونکي ښايي بل هېواد ته ولېږدول شي. دې ته بیا ځای پر ځای کېدل ویل کیږي.

که چېرې داسې وضعیت رامنځته شي، نو د نړیوال خوندیتوب لپاره به ستاسې غوښتنلیک کېدای شي په دغه هېواد کې و نه څېړل شي. د اروپايي ټولنې یوازې 26+ هېوادونه اوسمهال کولای شي نورو هېوادونو ته د بیا ځای پر ځای کېدو په برخه کې ګډون وکړي.

**مهم! تاسو اوس په ایټالیا کې یاست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ یو هېواد دی.**

- د اروپايي ټولنې هغه 26+ هېوادونه چې اوسمهال کولای شي په دغه بیا ځای پر ځای کېدو کې ګډون وکړي عبارت دي له: بلجیم، بلغاریا، چیک، جرمني، ایستونیا، ایرلنډ، یونان، هسپانیا، فرانسه، کروشیا، ایټالیا، قبرس، لاتویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، هنګري، مالتا، هالنډ، اطریش، پولنډ، پرتګال، رومانیا، سلووینا، سلواکیا، فنلنډ او سویډن.

- 5 "اړوند" هېوادونه او نور هغه هېوادونه چې دا مهال د بیا ځای پر ځای کېدو په پروسه کې ګډون نه لري، عبارت دي له: ډنمارک، ایسلینډ، لیچتنستین، ناروې، سویټزرلنډ.

## که چېرې تاسې ټاکل شوي یاست، نو کوم هېواد کې به تاسې بیا ځای پر ځای شئ؟

چارواکي به پرېکړه وکړي چې څوک بیا ځای پر ځای کېدای شي.


تر هر څه د مخه، هغوی به دا وګوري چې آیا تاسې له بل هېواد سره **پیاوړې اړیکې** لرئ او که نه. دا ډول اړیکې کېدای شي د لاندې مواردو له مخې وي:

- د کورنۍ ملاحظات (نږدې خپلوان او همدارنګه د کورنۍ لرې غړي لکه د تره زامن او لورانې)
- کلتوري ملاحظات (د بېلګې په توګه که چېرې تاسې د هغه هېواد پر ژبه خبرې کوئ)

**مهم!** تاسې نه شئ کولای دا وټاکئ چې کوم هېواد کې باید بیا ځای پر ځای شئ.

که تاسې داسې اسناد لرئ چې له بل هېواد سره ستاسې اړیکه ثابتوي، نو باید دا اسناد سمدستي چارواکو ته وسپارئ. که نه، چارواکي به ونه شي کولای ستاسې اړیکه په پام کې ونیسي.

خو دا تضمین نه کوي چې تاسې به هماغه هېواد ته انتقال شئ.



که تاسې له بل هېواد سره پیاوړې اړیکې ونه لرئ، نو تاسې به هغه هېواد ته انتقال شئ چې د بیا ځای پر ځای کېدو په پروسه کې ګډون کوونکي هېوادونه یې ټاکي.

که چېرې تاسې داسې ثبوت لرئ چې وښيي له بل هېواد سره پیاوړې اړیکې لرئ، نو باید د لاندې معلوماتو په کارولو سره هغه تسلیم کړئ.

## که چېرې تاسې بل هېواد کې بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست نو له تاسې د څه شي تمه کېږي؟



که چېرې تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست، نو تاسې باید:


- له چارواکو سره همکاري وکړئ او د هغوی لارښوونې تعقیب کړئ
- د سفر تر نېټې پورې په دغه هېواد کې پاتې شئ او چارواکې باید وکولای شي چې له تاسې سره په اړیکه واوسي
- د بیا ځای پر ځای کېدو هېواد کې تر هغه پورې پاتې شئ تر څو چې مو غوښتنلیک څېړل کېږي.

## په دغه پروسیجر کې له تاسې څخه د څه شي تمه کېږي؟

**مهم!** که چېرې تاسو له چاروکو سره همکاري رد کړئ، نو دا کار به ستاسو لپاره منفي پایلې ولري.

که چېرې تاسې د چاروکو له اجازې پرته بل هېواد ته سفر کوئ یا د بیا ځای پر ځای کېدو له هېواد څخه کوچیږئ، نو ځینې هغه مشخص حقونه چې د یوه غوښتونکي په توګه یې لرئ، هغه به له لاسه ورکړئ. د بېلګې په توګه:

- تاسې به **زیاتره خدمتونه او د ملاتړ ډولونه ترلاسه نه کړئ**
- تاسې ته به **د کار کولو یا کورسونو** تعقیبولو اجازه درنکړل شي.



## که چېرې تاسې له ځان سره د کورنۍ غړي ولرئ بیا به څه کیږي؟

که چېرې تاسې سره اوسمهال د نږدې کورنۍ غړي وي او تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست، نو ستاسې کورنۍ به هم له تاسې سره ګډ ځای پر ځای شي.

د کورنۍ نږدې غړي دا کسان دي:



- ستاسې مېړه یا ښځه
- ستاسې نا واده شوی شریک کوم چې ورسره ثابته اړیکه لرئ



- ستاسې ماشوم (تر 18 کلنۍ ټیټ او ناواده شوی).

## ایا د بیا ځای پر ځای کېدو وړاندې کومه مصاحبه هم تر سره کیږي؟



که چېرې له تاسې څخه لا زیات معلوماتو ته اړتیا وي، نو یوه مصاحبه به درته تنظیم شي. دا به پر امنیتي موضوعګانو باندې را ټوله وي. که چېرې تاسې اړتیا لرئ چې دې دول مصاحبې ته ولاړ شئ، نو چارواکي به له وړاندې تاسې ته جزئیات درکړي.

# که چېرې تاسې د لېږد له پرېکړې سره مخالف واوسئ نو څه؟

که چېرې تاسې د ځای پر ځای کولو لپاره ومنل شئ، نو تاسې ته به **د لېږد پرېکړه** درکړل شي چې په هغه کې به لیکل شوي وي چې تاسې به کوم هېواد کې ځای پر ځای شئ.

که چېرې تاسې د لېږد له پرېکړې سره مخالف یاست، نو کولای شئ خپل دلیل محکمې ته وړاندې کړئ. دې ته استیناف وایي. کله چې تاسې پر یوه پرېکړه باندې استیناف وکړئ، نو محکمه یا قضایي پلاوی به وروستۍ پرېکړه ونیسي.






که اړتیا وه، یو حقوقي سلاکار او یو ژباړونکی کولای شي له تاسې سره د استیناف په کولو کې په وړیا توګه مرسته وکړي.

یوازې درې دلیلونه شته چې د بیا ځای پر ځای کېدو د پرېکړې پر ضد یې استیناف وشي:

- تاسې ادعا کوئ چې ټاکل شوی هېواد ته انتقال ستاسې د بشري حقونو خلاف کار دی
- داسې نوې معلومات شته چې د انتقال د پرېکړې پر مهال موجود نه وو او کولای یې شوای چې پرېکړه بدله کړي
- تاسې په بل هېواد کې کورنۍ لرئ او باید له خپلې کورنۍ سره یوځای شئ

**که تاسې له دې پرېکړې سره موافق نه یاست چې بل هېواد ته انتقال شئ، نو باید د لېږد په پرېکړه کې د ټاکل شوې مودې دننه د دې پرېکړې پر وړاندې استیناف وکړئ.**

د استیناف د وړاندې کولو موده، ځای او طریقه به په هغه د انتقال پرېکړه کې تشریح شي چې تاسې ته درکړل شوې ده.

تاسې باید هغه دلیل یا دلایل وړاندې کړئ چې ولې له دې پرېکړې سره موافق نه یاست چې بل هېواد ته انتقال شئ.

تاسې باید دا دلیل یا دلایل هم ورکړئ چې ولې باید د استیناف د پروسې پر مهال ټاکل شوي هېواد ته انتقال نه شئ.

محکمه به لومړی دا پرېکړه وکړي چې ایا تاسې کولای شئ د استیناف د پایلې تر اعلان پورې په همدې هېواد کې پاتې شئ، دا پرېکړه به په **1 میاشت** کې وشي. دا د تعلیقي اغېز استیناف په نوم یادېږي.


که محکمه پرېکړه وکړي چې تاسې نشئ کولای د استیناف د پایلې تر اعلان پورې په همدې هېواد کې پاتې شئ، نو تاسې به ټاکل شوي هېواد ته انتقال شئ، که څه هم استیناف به روان وي.

که محکمه پرېکړه وکړي چې تاسې باید د استیناف د پروسې پر مهال په همدې هېواد کې پاتې شئ، نو محکمه به هڅه وکړي چې د تعلیقي اغېز د پرېکړې له نېټې څخه په یوه میاشت کې وروستۍ پرېکړه وکړي چې ایا تاسې باید ټاکل شوي هېواد ته انتقال شئ که نه.

که ستاسې استیناف ونه منل شي، نو تاسې به د اروپایي ټولنې+ هغه هېواد ته انتقال شئ چې ستاسې د غوښتنلیک د ارزونې مسؤلیت لري. انتقال باید تر ټولو ناوخته د محکمې د وروستۍ پرېکړې له نېټې څخه په 4 اونیو کې ترسره شي.

**مهم!** تاسې باید له چارواکو سره همکاري وکړئ او ټاکل شوي هېواد ته سفر وکړئ.

# د بیا ځای پر ځای کېدو پروسه څومره وخت نیسي؟




که تاسې د پرېکړې پر وړاندې استیناف ونه کړئ، نو که چې د بیا ځای پر ځای کېدو اروپايي ټولنې+ هېواد دا غوښتنه تأیید کړه، انتقال باید له هغه وخت څخه په 4 اونیو کې ترسره شي.

که محکمه پرېکړه وکړي چې د استیناف د پروسې پر مهال ستاسې د پاتې کېدو لپاره کوم دلیل نشته، نو تاسې به ټاکل شوي هېواد ته انتقال شئ، که څه هم استیناف به روان وي.

که تاسې د انتقال د پرېکړې استیناف وکړئ او محکمه پرېکړه وکړي چې تاسې باید د استیناف د پروسې پر مهال په دې هېواد کې پاتې شئ، نو که استیناف رد شي، انتقال باید د استیناف د پرېکړې له نېټې څخه په 4 اونیو کې ترسره شي. تاسې ته به لږ تر لږه د انتقال له نېټې څخه 2 ورځې مخکې خبر درکړل شي. که ستاسې استیناف ومنل شي، نو تاسې به انتقال نه شئ او په همدې هېواد کې به پاتې شئ.

که محکمه پرېکړه وکړي چې د استیناف د پروسې پر مهال ستاسې د پاتې کېدو لپاره کوم دلیل نشته، نو تاسې به ټاکل شوي هېواد ته انتقال شئ، که څه هم استیناف به روان وي.

## له بیا ځای پر ځای کېدو وروسته به څه پېښیږي؟

په عادي ډول، ستاسې د نړیوال خوندیتوب غوښتنلیک به هغه هېواد وڅېړي چې تاسې ورته انتقال شوي یاست. که له انتقال وروسته معلومه شي چې تاسې په بل هېواد کې د کورنۍ غړی لرئ، نو کېدای شي ستاسې غوښتنلیک د ارزونې لپاره هماغه هېواد ته انتقال شي.

دا بروشور یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشور بیا تولید او بدلون یوازې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې بروشور کې د شامل شوو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې بروشور کې د موندل شویو معلوماتو کارولو ذمه واری نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025